# له طبيعي زېرموډک او په ځنګلونوپټ نورستان



ليکوال : محمد انورولید : ۱۳۹۷ لمريزکال ـ د لیندۍ ۲۱ مه

## د نورستان پېژند نه :

نورستان دافغانستان له شمال ختيځو ولايتونو څخه يو دی، دغه تاريخي سيمه د تاريخ په مختلفو دورو کې په بېلابېلو نومونو ياده شوی ده.
د جغرافيايي موقعيت له مخې نورستان يوه غرنۍ سيمه ده چې پخوا دا سيمه د کافرستان ترڅنګ د بلور يا بلورستان په نومونوهم ياد ه شوې ده . بلوريان يواځې د نورستان سيمه نه ، بلکې د کونړ، چترال اوکاپيسا ځينې سيمې هم د بلورستان په سيمې پورې تړلې وي.
په ۱۱۷٤ لمريزکال کې دافغانستان پاچا اميرعبدالرحمن خان ترنظامي عملياتو وروسته دغه سيمه ونيوله اودافغانستان برخه يې وګرځوله ، په هغه زمانه کې هم دا سيمه د بلورستان اوکافرستان په نومونو يادېدله. وروسته ددې سيمې ټول خلک مسلمانان شول او اوس دا سيمه دنورستان په نامه ياديږي.
د  نورستان ولايت ډېرې برخې له درو ، غرونو اوغونډيوڅخه تشکيل شوې دي. پراخه ځمکې ، ميدانونه يا دښته نه لري . ډېرې کمې کرنيزې ځمکې لري چې خلک يې د کرنيزو حاصلاتو له مخې نه شي خود کفاء کولی . په نورستان کې يو شمېرسيندونه هم بهيږي چې د لرګيو پلونه پرې جوړشوي دي.
ددې ولايت مرکز پارون دی.
نورستان ۹۲۶۷  کيلو متره مربع مساحت لري او شاوخوا څلور سوه زره نفوس لري ، چې ډېری اوسېدونکي يې د کار روزګار له امله په ننګرهار، کونړاو لغمان ولايتونو کې مېشت شوي دي.
ددې ولايت داوسېدونکواصلي ژبه نورستاني ده.  ۱۵ سلنه وګړي يې په پشه يي ژبه خبرې کوي او يو سلنه يې پښتانه دي، دغه راز ځينې برخې يې تاجک هم دي. خو اداري ( رسمي ) ژبه په دې ولايت کې پښتوده.

## د نورستان څلور خواوې:

ددې ولايت شمال ته بدخشان ولايت، ختيځ ته يې د پاکستان د چترال او کشمير سيمې، سوېل ته يې  د کونړ ولايت او لوېديځ ته يې پنجشېر، کاپيسا او د لغمان ولايتونه پراته دي.

## د نورستان اقليم:

نورستان نرم موسم لري، هرکال له ۶۰۰ څخه تر ۸۰۰ ملي متره اورښتونه لري، د نورستان شمالي برخې په ژمي کې ډېرې سړې وي او د تودوخې درجه ترمنفي لسو درجو پورې په کې رسيږي.
نورستان، چې يوغرنۍ ولايت دی، د ژمي پرمهال په کې ډېره زياته واوره وريږي اوتولې لارې يې وتړل شي، په ژمي کې يې هوا ډېره سړه وي، په نورو فصلونوکې يې هوا بيا معتدله وي، خو په اوړي کې يې په ځينو سيمو کې هوا ګرمه وي.

## اداري واحدونه:

دغه ولايت د مرکز په ګډون اته اداري واحدونه لري. پارون ددې ولايت مرکز دی،واما، کامديش، برګمټال، دواب، نورګرام ، وانټ وايګل او منډول يې ولسوالی دي.

## پوهنه:

په نورستان ولايت کي تردې مهاله شاوخوا (٢١١ ) ښوونځي موجود دي ، چي په کي دوه لېسې،١١٧ لومړني او ٩٢ منځني ښوونځي دي.

همداراز په دغه ولايت کې ٢٠ ديني مدرسې،دوه د زراعت مسلکي لېسي او دري دارالمعليمنونه هم شته ، په ياد ولايت کي د زده کوونکو شمېر ٧٢٨٤٣ تنو ته رسيږي، چي ٤٤٢٢٠ تنه يې هلکان او ٣٢٦٢٣ يې نجوني دي.

په دغه ولايت کې د ښوونکو شمېر ١٢٧٠تنو ته رسيږي، چې ١٢٠ يې ښځينه او نور يې نارينه دي، په دغو ښوونکو کې ٣٠ نارينه مسلکي ښوونکي او ٤ ښځينه مسلکي ښوونکي موجود ې دي.

د اسلامي تعليماتو په برخه کې ١٩٠ تنه استادان موجود دي، چي ١٢ يي ښځينه او نور يې نارينه دي.

د دغه ولايت شاوخوا ٣٥ ښوونځي ترل شوي ،همداراز په نورستان کي يواځې ٥٦ ښوونځي تعميرونه لري او پاتي نور يې نه لري.

## کرنه:

د نورستان ډېری برخي په ځنګلونو پوښلي دي، کرنيزې ځمکې پکې کمي دي، په ځنګلونو کي يې د جلغوزو، چهارمغزو، ارچې، نښترو، بلوط، شيشم، ګل بيد، چنار، نيمه چنار او داسي نورې ونې شاملي دي. په لوېديځ نورستان ولسوالی نورګرام کې د تازه مېوو باغونه هم شته او ددغه ولايت يو شمېر خلک پر مالداری هم بوخت دي .

## صنعت:

ددې ولايت خلک او په ځانګړې توګه ښځې يې په لاسي صنعت بوختي دي، دوی پشمي او نخي رختونه ګنډې او له هغو څخه بيا سيمه ييزې جامي جوړوي. ددې ترڅنګ د څارويو له څرمنو څخه هم جامې او نور توکي جوړوي .

په نورستان کې کانونه ډېر دي ، چي په غيرفني اوغيرقانوني او بېرحمانه ډول د داخلي او سيمه ئيزو قاچاقبرانو له خوا ا يستل کيږي.

تر اوسه پورې په دغه ولايت کې کومه فابريکه نه تر سترګو کيږي، چاروآکي يې وايي ، چي په دغه ولايت کې د فابريکو او صنعت لپاره ډېر ښه چاپيريال موجود دی، خو تر اوسه پورې هيڅ کوم پانګوال په دغه ولايت کې پانګونه، نه ده کړې.

په نورستان کې يواځې پکولونه او چيني په شخصي ډول جوړيږي، چې د ولايت په داخل کې ترې ډيره ګټه اخيستل کيږي.

## مشاهير:

نائب سالار عبدالوکيل خان، ګل مير خان،فرمون خان،مولوي افضل،دولت انقلابي،عبدالله خان نورستانی،مولوي غلام رباني،عبدالقدير نورستانی،شيخ فضل احمد مسلم،سميع الله،سليمان،مجيد رشيدي، سلطانه نورستانی، جنرال قيس او داسي نور ددغه ولايت مشهورې او نوموتي څېرې دي.

## کلتور:

د نورستان د اوسېدونکو کلتور، عادات او کړنې د نورو ولايتونو له خلکو څخه جلا او بېلې دي، ددې ولايت ډېری خلک مالداري کوي، له لرګيوڅخه يې دوه پوړيزه کورونه جوړکړي دي ، يوه کړکی ختيځ اوبله لوېديځ لوري ته پرېږدي، پرکټونو بيد يږي او ډېری يې د ميز دپاسه ډودۍ خوري ، د څارويو له څرمنو څخه يې پخوا جامې جوړولې او اغوستلې ،چې اوس هم په ځينو سيمو کې دغه چاره ترسره کوي . نارينه يې پکول په سروي ، په ودونو کې د نجلی پلار د هلک له پلار څخه ځينې څاروي د (تويانه) په توګه اخلي.

په نورستان کې د واده په مراسمو کې دوستان د واده کورنی ته پسونه، وزې او نور څاروي په تحفه کې ور وړي او هلته يې حلالوي، يو پسه يا وزه چې کله دوی حلال کړي په ٢٤ برخو يې وېشي او بيا يې يوه ديګي ته اچوي او پخوي يې. غوښه يې نيم خامه وي ، د هرې برخې لپاره يو ځانګړی سړی وي او هغه برخه همغه معلوم شخص ته ورکوي.

د کلي د مشرانو او ملا لپاره د غوښې ځانګړې برخه وي ، چې هغوی ته يې ورکوي، په واده کې د نورې ډوډۍ پرځای غوښه ورکوي.

خلک يي د يوه بل کورونو ته په ازادنه ډول تک راتګ کولی شي، ښځې يي له پرديو خلکو څخه ستر( پرده) نه کوي.

په دې ولايت کې نورفرهنګي فعاليتونه د نشت برابردي، يواځې په نورګرام ولسوالی کې يوه راډيو فعاله ده او په مرکز پارون کې دولتي راډيو ده.

په دغه ولايت کې ځانګړې محلي موسقي موجوده ده، چي ځانګړې مينوال لري ، د موسيقۍ الات يي د نورو په پرتله ساده دي ، دوی د ډول پر ځای تمبل چې دوی يې ډب بولي استعمالوي، همداراز يو بل کوچنی تمبل چې نری غږ باسي د ډمکی په نوم يادوي، چې د ښاديو په وختونو کې ترې استفاده کوي.

شپيلۍ هم غږوي او ورسره په خوا کې یو ځانګړی سه تار چې په نورستان کې جوړیږي او دوی يې واج بولي هم غږوي.

**لوبې:**

په نورستان کې بېلا بېل ډول ځايي لوبې ترسره کيږي، په دغه ولايت کې د خوسي، توپ ډنډه، واوروکی او داسې نورې محلي لوبې ترسره کيږي.

په دغه ولايت کې چې ډېره مشهوره لوبه ده هغه د ګوتې لوبه ده، چې اکثره نورستانیان يې د ژمي په موسم کې ترسره کوي او د پسرلني او اوړي موسم لوبې يې خوسی،توپ ډنډه، ډزغېی او داسې نورې فزيکي لوبې دي، په دغه ولايت کې د وا ليبال لوبې ترسره کوونکي مينوال له بلې هرې لوبې ډيردي.

خو په دې وروستيو کې د کرکټ لوبه هم د نورو ولايتونو ترڅنګ په دې ولايت کې وده کړې او پياوړې ولايتي منتخبه لوبډله لري، چې ډېرى مهال په ولايتي سياليوکې ښه ځلیږي، د ولايت په مرکز پارون کې کله ناکله د کرکټ سیالۍ هم ترسره کیږي. ، خو د لوبو کولو وړ ډګرونه نه لري .




د نورستان ولايت چارواکي وايي، سږکال په دغه ولايت کې د جلغوزو حاصلات د تېرو کلونو پرتله زيات شوي دي.

د نورستان والي حافظ عبدالقيوم ازادي راډيو ته ويلي، سږکال د نورستان له ځنګلونو ۸۳ ټنه جلغوزي راټول شوي چې ننګرهار، لغمان، کابل او نورو ولايتونو ته ليږل کيږي.

د ده په خبره که حکومت او په تېره د کرنې او مالدارۍ وزارت د جلغوزو د پروسس لپاره تخنيکي ځانګي فعالې او په دې برخه کې له خلکو سره ځانګړې مرستې وکړي، د نورستان د جلغوزو حاصلات به له دې هم زيات شي.

مهمې لاسته راوړنې:

۱- د اقتصاد وزیر ، د نورستان له والي حافظ عبدالقیوم سره د ولایتي پراختیا میاشتنۍ ناستې مشري وکړه ، پدې ناسته کې د سکټوري ادارو ، خصوصي سکټور او مدني ټولنو تر څنګ ، د اجرائیه ریاست سلاکار ښاغلی مولوي شفیع الله ، د ولایت مرستیال ښاغلی محمد هاشم فیضي ، د ولایتي شورای ریس سعیدالله او د پراختیایي کمېټې نورو غړو ګډون کړی وو او ولایتي شورا په بنسټیزو برخو کې چې د دې ولایت اړینه اړتیا ده ، د پاملرنې غوښتنه وکړه . د هغه ولایت والي حافظ عبدالقیوم وویل: د پانګونې اندازه او د ملي وحدت حکومت پاملرنه په درېو تېرو کلونو کې ډېره کمه وه او هیڅ ډول پراختیا پدې ولایت کې نده شوې . د سړک نه شتون د اقتصادي وروسته پاته کېدو او د فقر د کچې لوړېدو لوی لامل ده.

د هیواد د اقتصاد وزیر د هغه ولایت د پراختیایي پروژو په پیل ، د ولایتي پراختیایي پلان په جوړیدا او اقتصادي ظرفیتونو په مفصل ډول خبرې وکړې.

په پای کې د اقتصاد وزیر، د نورستان ولایت د اقتصاد ریس ته دنده وسپارله چې یو ټولیز پراختیایي پلان د هغه ولایت د ظرفیتونو او مؤلد افغانستان د طرحې په نظر کې نیولو او د اړونده بنسټونو په همکارۍ سره جوړ کړي ترڅو د پراختیایي پروژو تطبیق ، د عامه ارامی د ودې او فقر کموالي په موخه ، پراختیایي توازن او ټولنیز عدالت تأمین شي.

۲- د هیواد د اقتصاد وزیر ، د نورستان له مشرانو سره خبرې وکړې . او د هغوی ستونزو او وړاندیزونو ته یې غوږ کېښنود .

د اقتصاد وزیر ښاغلي مستور ژمنه وکړه چې د خپل توان په اندازه به ددغه ولایت د ستونزو په له منځه وړلو کې زیار وباسي.

۳- د نورستان ولایت د اقتصاد ریاست د ودانۍ پرانیستل.

۴- د نورستان ولایت د احصایې آمریت ودانۍ پرانیستل .

۵- د نورستان ولایتي روغتون د ودانۍ د پروژې څارنه .

۶- د ولایت مقام د نوې ودانۍ د پروژې څارنه.

۷- د نورستان ولایت د مقام میلمستون د ودانۍ د پروژې څارنه .

۸- د نورستان ولایت د څارنوالۍ د ودانۍ د پروژې څارنه .

۹- د نورستان ولایت د ولایتي شورای د ودانۍ د پروژې څارنه.

۱۰- نورستان ولایت د کرهني ریاست له ودانۍ لیدنه ، او په خوندیتون (ګدام) کې د ولایت د اړتیا وړ لومړنیو توکو بررسي .

۱۱- نورستان ولایت د ښاري میثاق له دفتر نه لیدنه .

۱۲- امنیتي مرکزونو ( پوستو) څخه لیدنه ( لومړی نمبر پوستې او دوهم نمبر پوستې له ودانیو څخه لیدنه) .

**نورستان ولایت عمده ستونزې:**

۱- د ولایت عمومي سړک او د نورستان ولایت د ولسوالیو ترمنځ د سړک نه شتون.

۲- د خام سړک په خاطر د لارې لرېوالی د کابل او نورستان څنګلورو ولایتونو تر منځ.

۳- فقر او د اقتصادي فرصتونو کمښت.

۴- د پوهني او روغتیا په برخه کي ستونزې .

۵- نا متوازنه پراختیا ( په مرکزي سیمو ډیر تمرکز او لیري ولسوالیو ته نه پاملرنه) .

۶- د سوداګرئ او کار موندني په موخه کومه فابریکه نده جوړه شوې.

۷- د ابیارئ د معیاري سیستم نه شتون .

۸- د دې ولایت لپاره د پراختیایې بودجې کمښت (د نوستان بودجه د لوګر ولایت د بودجې یو پر دریمه حصه ده) .

۹- نورستان ولایت صرف یو وکیل لري ، چې داخپله د توازن نه شتون ښیي.

۱۰- د تدارکاتو د پروسې اوږدوالی ، چې بودجه په خپل وخت نورستان ته نه رسیږي ، او پروژې ځنډول کیږي او په پای کې ایستل کیږي.

**فرصتونه:**

۱- ښکلی طبیعت چې کولای شي ګرځندویان دې ولایت ته را ښکېل کړي .

۲- ډیري او سرشاره د اوبو سرچیني ( ۹ سیندي حوزې د ۳ تر ۵ زره میګاواټه بریښنا د ظرفیت په تولید سره ، د کبانو روزل او د څښاک اوبو تولید )

۳- طبیعي سرچیني ( زمرد ، الماس ، طلا، لاجورد ، یاقوت، یورانیم ، د تیږو سکاره، مرمر او نوري ګران بیه تیږي)

۴- پدې ولایت کې ډیرې طبي بوټي شتون لري.

۵- سرشاره ځنګلونه ( ارچه ، ناجو ، بلوط ، شیشم ، ګل بید، چنار نیمه چنار او نور) .

۶- وچه مېوه ( ځنغوزي ، چارمغز) .

۷- لبنیات ( شیدې ، پنیر ، مستې ، کوچ، کورت ، پیروی ).

۸ - د لاسي صنایعو او فرنیچرو تولید .

**تعقیب:**

۱- د نورستان ولایت د اقتصاد له ریاست سره د سړکونو او مواصلاتي لارو په اړه د معلوماتو د را ټولولو تعقیب.

۲- د ټولګټو وزارت سره د پلان شویو سړکونو د کار د پرمختګ تعقیب.

۳- د کابینې او وزیرانو شورا ته ، د یاد سفر د راپور وړاندې کول.

روان کال د نورستان له ځنګلونو ۸۳ ټنه جلغوزي راټول شوي

(طالب نیوز):




د طالب نیوز په نامه یوې رسنی ـ دوشنبه (۹/۵/۱۳۹۷): د نورستان د چارواکیو له خولې لیکلي چې: روان کال په یاد ولایت کې د جلغوزیو او نورو وچو میوو حاصلات د پخوا په پرتله ډیر شوي وو؛ خو د بازار نشتون یې ستونزې جوړې کړې وې.
د نورستان والي هم رسنیو ته تائید کړه، چې د جلغوزیو حاصلات زیات شوي وو.
حافظ عبدالقیوم وویل: « سږ کال په دغه ولایت کې د جلغوزو حاصلات د تېرو کلونو پرتله زیات شوي دي».
نوموړي وویل: په روان کال کې د نورستان له ځنګلونو شاوخوا ۸۳ ټنه جلغوزي راټول شوي وو.
ده زیاته کړه، چې دغه جلغوزي ننګرهار، لغمان، کابل او نورو ولایتونو ته لیږل شوي دي.
هغه څرګنده کړه: که حکومت په ځانګړې توګه د کرنې او مالدارۍ وزارت د جلغوزو د پروسس لپاره په نورستان ولایت کې تخنیکي څانګې فعالې او په دې برخه کې له ولسي خلکو سره زیاتې مرستې وکړي؛ نو د نورستان د جلغوزو حاصلات به له دې هم زیات شي.
والي دا هم وویل، چې: دوی ډیرلوړکیفیته جلغوزي او وچې میوې لري؛ خو دومره وسایل نشته، چې بهرته یې ولیږدوي.
د کرنې وزارت په دې اړه څه نه دي ویلي؛ خو ولسي خلک له حکومته د همکاري زیاتولوغوښتونکي دي.

## جمهور رئیس غني نورستان د طبیعي منابعو له پلوه فقیر ولایت نه دی، خو اساسي توجه نه ده ورته شوې

جمهور رئیس غني د ۱۳۹۷ لمریزکال د غويي په ۴ مه ویلي وو چې : نورستان د طبیعي منابعو له پلوه فقیر ولایت نه دی، خو اساسي توجه نه ده ورته شوې

د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس محمد اشرف غني نن مازدیګر په دلګشا ماڼۍ کې د نورستان یو شمېر مشرانو، استازو او ځوانانو سره په کتنه کې د دوی ستونزې، غوښتنې او وړاندیزونه واورېدل.

په پیل کې سناتور عبداللطیف نهضت‌یار او محمد اسماعیل اثري نورستان ولایت ته د جمهور رئیس د ځانګړې پاملرنې او د هېواد په کچه د بریالۍ بهرنۍ پالیسۍ، امنیت، اقتصادي ودې، د اوبو مدیریت، زیربنا، د فساد ضد مبارزې، ترانزیټ او انکشاف په برخه کې د حکومت په ځانګړي ډول د جمهور رئیس د کوښښونو اولاسته راوړنو قدرداني وکړه.

یادو ویناوال د حکومت له برنامو څخه د بشپړ ملاتړ ترڅنګ  د معارف، روغتیا، سرکونو، بندونو، امنیت او نورو برخو کې خپلې غوښتنې او وړاندیزونه له جمهور رئیس سره شریک کړل. هغوی د نورستان د دوو قومونو ترمنځ د دېرش کلنې شخړې حل ته په اشارې چې د جمهور رئیس په لارښوونه په سوله‌ییزه توګه حل شوه، وویل، دغو متضررو کورنیو سره دې له شویو ژمنو سره سم د کورونو او سرپناه جوړولو په برخه کې مرسته وشي.

**جمهور رئیس د ویناوالو د وړاندیزونو اوغوښتنو له اورېدو وروسته هغوی ته د ښه راغلاست پرمهال د هېواد د دفاع او ساتنې په برخه کې د نورستان د خلکو خدمتونه او اتلولی وستایلې.**

**جمهور رئیس غني د نورستان مشرانو ته وویل، د نورستان د امنیت د لا ښه تامین په موخه نظامي عملیات پیل شوي او دغه عملیات به له دښمن څخه د سیمو تر تصفیې او د هغوی د تهدیدونو تر دفعه کولو پورې دوام ولري.**

**محمد اشرف غني د کلیو پراختیا وزارت ته لارښوونه وکړه چې د ۶۰۰۰ ښوونځیو جوړولو پرمهال دې نورستان کې د ښوونځیو د ودانیو د ستونزې حل ته لومړیتوب ورکړي او په یاد ولایت کې د انکشافي پروژو د لاښه تعقیب په موخه دې د ولسونو لپاره د وزارت یو تن د رابط غړي په توګه معرفي کړي. هغه زیاته کړه، نورستان د منابعو او طبیعي زېرمو له پلوه فقیر ولایت نه دی، یوازې اساسي توجه غواړي چې پخوا نه وه ورته شوې.**

**جمهور رئیس د کرنې وزیر ته لارښوونه وکړه چې د نورستان د ځنګلونو احیا ته اساسي پام وکړي او همدارنګه یې له یادو مشرانو څخه وغوښتل چې د نورستان ولسونه د ځنګلونو ساتنې ته وهڅوي.**

**د هېواد جمهور رئیس له نورستانیانو څه له دې امله مننه وکړه چې تل یې د افغانستان د نورو سیمو په پرمختګونو خوښي څرګنده کړې او دا ځل چې د دوی وار دی نو هېوادوال باید د نورستان د انکشاف او پرمختګونو هرکلی وکړي.**

**جمهور رئیس غني همدارنګه د ملي دفاع، کورنیو چارو او چارو اداري عمومي ریاست مسوولینو ته لارښوونه وکړه چې د نورستان له هغو متضررو کورنیو سره چې د څو لسیزو خپلمنځي شخړې یې په سوله‌ییزه توګه حل کړې د کورونو او سرپناه لپاره لازمې مرستې وکړي.**

**جمهور رئیس د ولایت له مرکز سره د نورستان د پنځو ولسوالیو نښلولو ته په اشارې د فواید عامې وزارت ته لارښوونه وکړه چې سږ کال دې په یاد ولایت کې د ۲۰ کیلو متره پاخه او اساسي سرک جوړولو ته لومړیتوب ورکړي.**

**همدارنګه د غونډې په پای کې د نورستان مشرانو او استازو جمهور رئیس ته یو پکول او چپن د ډالی په توګه ورکړل.**

**د نورستان په ځنګلونو قاچاقبر واکمن دي:**



د نورستان ولایت ولسي وګړي او په ولایتي شورا کې د دوی استازي وایي چې په دغه ولایت کې شته ځنګلونه په ناقانونه توګه پرې کېږي او په قاچاقي توګه ګاونډیو هېوادنو ته لېږدول کېږي.

د نورستان ولایت ولسي وګړي او په ولایتي شورا کې د دوی استازي وایي چې په دغه ولایت کې شته ځنګلونه په ناقانونه توګه پرې کېږي او په قاچاقي توګه ګاونډیو هېوادنو ته لېږدول کېږي.

دوی وایي چې زورواکي او قاچاقبران د شپې له تیارې په ګټې اخستنې د اوښانو او قچرو پر مټ له غرونو چارتراش را کوزوي او بیا یې په لویو موټرو کې کونړ ته تر راوړلو وروسته پاکستان ته اړوي.

دوی دا هم وایي چې یاده شوې ستونزه یې په وار وار د اړونده چارواکو تر غوږونو رسولې خو پر وینا یې چې تر دې مهاله یې کومه اغېزناکه پایله نه ده ورکړې.

د نورستان د ولايتي شورا پخواني رئيس او اوسني غړي عنايت الهړ مذهب يار  له کليد سره په مرکه کې وويل چې د دغه ولايت  لرې پرتو غرنيو سيمو ته يو شمېر پاکستاني سوداګر راځي او له عامو خلکو څخه په ډېره کمه بيه ځنګلونه اخلي او تر وهلو وروسته يې  خپل هېواد ته وړي.

نوموړی زياتوي:(( د کامدېش، پارون او له دې څخه ښکته لکه: درين، څوکی او مريخ  سيمو کې  نه يوازې خپلمنځي شخړې،  ډېرې دي، بلکې حکومت  د حاکميت نشتوالي له کبله يې دا مهال ځنګلونه وهل کېږي او پر پاکستانيو قاچاقبرو تر پلورلو وروسته، پاکستان ته وړل کېږي)).

مذهب يار وايي، د يادو ځنګلونو ګټه درې فيصده عامو خلکو ته رسېږي او باقي ټوله د بهرنيو قاچاقبرو جيبونو ته لوېږي.

له دې سره هم مهاله د شرقي نورستان د قومي شورا مشر ډګروال جميل  بيا وايي  چې په کامدېش او برګ متال ولسواليو کې ګڼ شمېر ځنګلونه د تبرګو او ارو پر مټ وهل کېږي او د قاچاقبرو له خوا په ليلامي توګه پر بهرنيو سوداګرو پلورل کېږي.

ډګروال جيمل زياتوي:((  ساوخوړ، شيرګړ خوړ، لندل، پيتي ګل، بازګل، کمو ګاورديش، جنارخوړ، بډې ګل او ګوماري ګل سيمو کې خلک پراخه ځنګلونه وهي او پاکستاني تجاران يې په ناقانونه توګه خپل هېواد ته انتقالوي)).

نوموړي زياته کړه: (( زموږ ملي شتمني د ليلام په توګه پر خارجي خلکو پلورل کېږي او ګټه يې هم هغوی ته رسېږي، حکومت دغې برخې ته هېڅ توجه نه کوي. ))

په ورته وخت کې د نورستان يو شمېر ولسي وګړو هم له  کليد راډيو سره په مرکوکې پر يادې ستونزې اندېښنه څرګنده کړه.

د دوی په ټکواوسمهال هم قاچاقبر په رڼا ورځ ځنګلونه پرې کوي او پر غرنيو سرحدي لارو يې ګاونډيو هېوادونو ته قاچاقوي.

د دغه ولايت د پارون ولسوالۍ اوسېدونکی احسان الله وايي :(( حکومت له ولسي خلکو سره په ځنګل وهلو کې شريک دی، دوی په ګډه په پارون کې ځنګلونه قطعه کوي او د اوښانو او قچرو په واسطه يې له غرو را ښکته کوي او بيا يې پاکستان او يو شمېر نورو ملکونو ته وړي.))

د برګ متال ولسوالۍ اوسېدونکی رحمت الله بيا وايي چې په کامدېش او برګ متال دوو  ولسواليو کې عام خلک  نښتر او جلغوزي هم وهي.

يادې سرچيني د قاچاقبرو د لارې په اړه وويل: (( کله چي دا ونې قطعه شي بيا يې د ناړۍ ولسوالۍ ته  له هغه ځايه يې  غازي اباد او بيا له هغه ځايه اسمار ولسوالۍ  او له هغه ځايه يې د دانګام ولسوالۍ ته وړي او له هغه ځايه يې نو بيا  د پاکستان چترال سيمې ته انتقالوي.))

خو د نورستان ولايت د کرنې او مالدارۍ رئيس انجنير جعفرخان اميرزی بيا د عامو خلکو ادعاوې بې بنسټه ګڼي او وايي چې هيڅوک نه شي کولای په ناقانونه توګه ځنګلونه پرې کړي.

اميرزی د خپلې ادعا د اثبات لپاره وايي: (( په شرقي او غربي نورستان کې خلک د کورونو لپاره ځنګلونه پرې کوي، د دوی د مخنيوي لپاره په پام کې لرو چې محافظتي کمېټې ايجادې کړو، څو د ځنګل د بې رحمه قطعه کېدو مخنيوی وشي )).

د کرنې رياست دا چارواکی وايي  چې  د نورستان په  اوو ولسواليو او  مرکز پارون کې دا مهال ۳ سوه زره هکټاره ځمکه ځنګلونه لري چې په خبره يې د کورنيو جګړو له کبله ۵۰څخه تر ۶۰ فيصدو پورې وهل شوي او نورو هېوادونو ته په ناقانونه توګه لېږدول شوي دي.


سرچينه زياتوي:(( اوسمهال مو د يو شمېر امنيتي پوستو په جوړېدو سره د ځنګلونو د پرې کولو مخنيوی کړی او په دې برخه کې به نوره هڅه هم کوو.))

کارپوهان په دې اند دي که په نورستان کې د ځنګلونو د  پرې کولو لړۍ  همداسې پسې وغځېږي، نو لرې نه ده چې دا ملي شتمني به چورلټ له منځه لاړه شي او پر چاپيريال د ناوړه اغېزو تر څنګ به ولسي وګړو ته هم ګڼې روغتيايي ستونزې راوټوکوي.

پاتې دې نه وي چې په ختيځ کې  پر نورستان سربېره په  ننګرهار، کونړ او لغمان ولايتونو کې د شته ځنګلونو د ناقانونه وهلو او قاچاقولو له امله هم خلک خورا اندېښمن دي .

**د نورستان ولايت تاريخي ښکلا :**

**د نورستان ولایت تاریخي باغ اندر :**




**نورستان ولايت چې د هیواد په ختیځ کې به ځنګلونو پوښلی، په غرونو کې یې جګې او دنګې ونې ، پاکه هوا ، سړې چینې او ښکلي چمنونو ، ځپاند ه سیندنو، په سردرو کې د کږو وږو درو په منځ کې یو زړه راښکونکی او د ښکلا لرونکی ولایت دی.**

**چې د هیواد کشمیر او د سیمې سویس ورته هم ویلای شو ، چې د سیل او سیلانیانو د پاره یو زړه وړنکی ځای دی . دا چې نورستان ولايت ډیر ښکلي او تاریخي ځایونه لري ، د هغې څخه یو د اندر په نوم ښکلی او تاریخي باغ دی ، چې د نورستان ولایت په واما ولسوالۍ کې پروت دی ، د واما ولسوالي د کونړ د پیچ دولسوالی په خوا پرته ده ، او لویدځ خواته یې د نورستان ولایت د وایګل ولسوالي پرته ده.**

**د اندر باغ ۴کیلومتره اوږدوالي ، ۳کیلومتره پلنوالي او خورا زیات سیلانی ارزښت لري ، دا طبیعي باغ ډول ډول میوه لرونکې ونې او خورا زیات حاصلات لري چې د ټول واما خلک ترې برخمن دي ، دغه باغ څو ځانګړنې هم لري چې په لاندې ډول یې یادونه کیږي :**

**1 ـ د ساتنې او خړوبولو په برخه کې د کلیوالو او د قومي شورا لخوا څوتنه ټاکل شوې دي چې د ا یراین ( څارندوی ) په نوم یادیږي چې د باغ ټول واک ددوی په لاس کې دی.**

**۲ـ د دغې قومي شورا او خلکو لخوا ناغه (جریمه ) ټاکل شوې ده ، ترڅو پورې چې د باغ میوه پخه شوې نه وي، که چا ترې ګټه پورته کړه ناغه ( جریمه ) به ورکوي ، خو میلمانه حق لري چې د باغ څخه لیدنه وکړي او د میوو څخه یې ګټه پورته کړي.**

**۳- د ۱۴کلنۍ څخه ښکته عمر لرونکي کوچنیان نه شي کولايې چې باغ ته ولاړ شي ، که چیرته مور او پلار وغواړي چې خپل کوچنیان د ځان سره بوځي نو دایراین ( څارندوی ) څخه په اجازه اخلې او بیدون د ایرا ین ( څارندوی ) د اجازې نه شي کولای چې باغ ته ننوځي**
**۴- کله چې د باغ میوې پخې شي د ایرا ین ( څارندوی ) لخوا قومي شورا او کلیوالو ته خبر ورکول کیږي ، او ایرا ین ( څارندوی ) د یوه کال تولې کړنې او همدا رنګه هغه خلک چې ناغه شوي وي ، ددوی سره شریکوي.**
**۵- د باغ د میوو د راټولولو نیته د تلې (میزان ) د ۱۴مې نه تر ۱۶مې پورې ده ، خلک د تلې ( میزان ) په ۱۴ مه د باغ په انګړ کې راغونډیږي، او هغه ناغې (جریمې ) چې د خلکو څخه اخستل شوې وي، خلکو ته پرې ډوډۍ او میله برابروي ، ځوانان او پیغلې په ډول ډول جامو کې باغ ته راځي، په میله کې برخه اخلې او د میلمنو قدردانی کوي**
**او ځوانان خپلی دودیزي لوبې د خلکو په وړاندي کوي ، او هیڅوک دا خق نه لري چې د میلې ځای ته وسلې راوړې ، د میوو د راټولولو دا میله درې ورځې دوام کوي.**
**دا چې د نورستان د طبیعي ښکلاګانو څخه یو برخمن ولایت دی ، د لیدلو ډیرې تاریخي سیمې لري ، د جرمني د کولن میشینیش ښار کې د افغانانو کلتوري ټولنه د افغانستان په مرکزي حکومت غږ کوي چې ددغه ولایت او همدارنګه په هیواد کې د طبعي ښکلاګانو ساتلو اوپه هغې باندې پانګونې ته پاملرنه وکړي چې د هیواد په ځان بسایني او اقتصادي ودې د پاره ډیر اړین دي ، چې ددې په ذریه کولایې شي سلګونه زره کورني او بهرني سیلانیان هیواد ته راجذب کړي.**
**د سوکاله ، په ځان بسیا،او پرمختللي افغانستان په هیله**
**د جرمني د کولن میشینیش ښار د افغانانو کلتوري ټولنه**
**سربېره پردې نورستان د میو جام په څېرلرغوني آثارهم لري چې په لاندې شکل کې ښکاري .**

